# الفرقان

**مکی سورة دی ۷۷ آيتونه لری**

**بِسْمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ**

تَبَارَكَ ٱلَّذِى نَزَّلَ ٱلْفُرْقَانَ عَلَىٰ عَبْدِهِۦ لِيَكُونَ لِلْعَٰلَمِينَ نَذِيرًا ١

**د ډېر زيات برکت څښتن دی( الله تعالی)- هغه ذات چې فرقان( د حق او باطل ترمنځ تفکيک کوونکی او جلا کيدونکی قرآن يې) پخپل بنده ( محمد صلی الله عليه وسلم) نازل کړی، چې ټولو نړيوالو ته( د کفر او عصيان د ناوړو او بدو عواقبو) خبر ورکوونکی او تنبيه کوونکی دی.**

ٱلَّذِى لَهُۥ مُلْكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ وَلَمْ يَتَّخِذْ وَلَدًا وَلَمْ يَكُن لَّهُۥ
شَرِيكٌ فِى ٱلْمُلْكِ وَخَلَقَ كُلَّ شَىْءٍ فَقَدَّرَهُۥ تَقْدِيرًا ٢

**هغه ذات چې د آسمانونو او ځمکې( کائناتو) ټولواک او فرمانروا دی. نه يې  څوک په ځوی والی نيولی او نه ورسره په سلطنت او ربوبيت کې کوم شريک شته. ټول موجودات او مخلوقات يې( له نيست نه) هست کړی او په يوه ځانګړې  دقيقه او مناسبه اندازه يې برابر کړی( يعنې  د بدن جوړښت، خوی او اخلاق، د ژوند هر اړخيز څرنګوالی او لوړې ژورې، د مرګ مکان او زمان او بالاخره ټول سرنوشت يې ورته په لوح محفوظ کې ثبت او درج کړی دی).**

وَٱتَّخَذُوا۟ مِن دُونِهِۦٓ ءَالِهَةً لَّا يَخْلُقُونَ شَيْـًٔا وَهُمْ يُخْلَقُونَ وَلَا
يَمْلِكُونَ لِأَنفُسِهِمْ ضَرًّا وَلَا نَفْعًا وَلَا يَمْلِكُونَ مَوْتًا وَلَا حَيَوٰةً وَلَا
نُشُورًا ٣

**او( مشرکانو) د هغه ذات په ځای داسې باطل خدایان غوره کړی چې هیڅ شی نشی پیدا کولی بلکه دوی پخپله مخلوقات دی، او نه خپلو ځانونو ته خیر رسولی شی او نه زیان( رسولی او نه دفع کولی شی). نه په مرګ او ژوند کوم قدرت او تسلط لری او نه له مرګه وروسته څوک راژوندی کولی شی.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوٓاْ إِنۡ هَٰذَآ إِلَّآ إِفۡكٌ ٱفۡتَرَىٰهُ وَأَعَانَهُۥ عَلَيۡهِ قَوۡمٌ
ءَاخَرُونَۖ فَقَدۡ جَآءُو ظُلۡمٗا وَزُورٗا ٤

**او کافران وایی: دا قرآن صرف دروغ دی چې( پیغمبر) له ځانه جوړ کړی، او نور کسان ورسره د هغه په جوړولو کې مرسته کوی. بیشکه چې دوی( قرآن ته) په دغه ډول ناروا نسبتونو سره د لوی ظلم او لوی تومت مرتکب شوی دی.**

وَقَالُوٓاْ أَسَٰطِيرُ ٱلۡأَوَّلِينَ ٱكۡتَتَبَهَا فَهِيَ تُمۡلَىٰ عَلَيۡهِ
بُكۡرَةٗ وَأَصِيلٗا ٥

**او دا هم وایی چې قرآن پخوانی افسانې دی( چې نورو لیکوالو ورته) لیکلی او سهار ماښام پیغمبر ته لوستل کیږی( تر څو یې حفظ کړی او بیا یې مونږ ته واوروی او ووایی چې دا آسمانی وحې ده).**

قُلۡ أَنزَلَهُ ٱلَّذِي يَعۡلَمُ ٱلسِّرَّ فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِۚ إِنَّهُۥ كَانَ
غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٦

**ووایه: (مبارک قرآن) هغه ذات نازل کړی چې د آسمانونو او ځمکې په ټولو اسرارو خبر او ډیر زیات بښونکی او مهربان دی.**

وَقَالُواْ مَالِ هَٰذَا ٱلرَّسُولِ يَأۡكُلُ ٱلطَّعَامَ وَيَمۡشِي فِي ٱلۡأَسۡوَاقِ
لَوۡلَآ أُنزِلَ إِلَيۡهِ مَلَكٞ فَيَكُونَ مَعَهُۥ نَذِيرًا ٧

**او وایی: دا څنګه پیغمبر دی چې خواړه خوری( خوراک څښاک) کوی، او په بازارونو کې ګرځی راګرځی، ولې ورته ( یو دوه) پرښتې نه نازلیږی( چې د ده د رعب داب د قایمولو لپاره له ده سره وی او خلک د ده له نافرمانی نه) وویروی؟**

أَوْ يُلْقَىٰٓ إِلَيْهِ كَنزٌ أَوْ تَكُونُ لَهُۥ جَنَّةٌ يَأْكُلُ مِنْهَا ۚ وَقَالَ
ٱلظَّٰلِمُونَ إِن تَتَّبِعُونَ إِلَّا رَجُلًا مَّسْحُورًا ﴿٨﴾

**او ولې وربانديې( د سرو سپينو) خزانه، نه راوغورځول کيږي او يا ورته( له ميوو ډک) باغ نه ورکول کيږي چې دى ترې وخوري؟ او ظالمان وايي چې اى خلکو تاسو خو په يوه کوډو وهلى سړي پسې روان يې.**

ٱنظُرْ كَيْفَ ضَرَبُوا۟ لَكَ ٱلْأَمْثَٰلَ فَضَلُّوا۟ فَلَا يَسْتَطِيعُونَ
سَبِيلًا ﴿٩﴾

**( اى پيغمبره!) وګوره ستا په باب څومره نامعقول اوصاف بيانوى،دوى( د خپل لجاجت، تکبر، دښمنى او تعصب له امله) ګمراه شوى او( د حق په لورى) هيڅ رو ګودر نه مومى.**

تَبَارَكَ ٱلَّذِىٓ إِن شَآءَ جَعَلَ لَكَ خَيْرًا مِّن ذَٰلِكَ جَنَّٰتٍ تَجْرِى مِن
تَحْتِهَا ٱلْأَنْهَٰرُ وَيَجْعَل لَّكَ قُصُورًا ﴿١٠﴾

**د ډير زيات برکت څښتن دى( الله تعالى) هغه ذات چې که وغواړي له دغو تولو نعمتونو څخه به لا زيات تاته درکړي، داسې باغونه (درکولى شي چې د ونو او قصرونو) لاندې به يې رودونه روان وي، او لويې او مجللې ماڼۍ به هم درکړي.**

بَلْ كَذَّبُوا۟ بِٱلسَّاعَةِ ۖ وَأَعْتَدْنَا لِمَن كَذَّبَ بِٱلسَّاعَةِ سَعِيرًا ﴿١١﴾

**خو( دا تول نا معقول فرمايشونه محض بهانې او پلمې دى) بلکه دوى د قيامت راتګ دروغ ګڼى( او له همدې امله ستا له نبوت نه منکر دى)او مونږ د آخرت(او حساب کتاب)د منکرينو لپاره، سوزوونکى اور تيار کړى دى.**

إِذَا رَأَتْهُم مِّن مَّكَانٍۭ بَعِيدٍ سَمِعُوا۟ لَهَا تَغَيُّظًا وَزَفِيرًا ﴿١٢﴾

**اور به د دوى په ليدلو داسې قهرى او له غضب نه ډکې چيغې او غرهار راپورته کړى چې ورتلونکى مجرمان به يې هم واورى.**

وَإِذَآ أُلْقُوا۟ مِنْهَا مَكَانًا ضَيِّقًا مُّقَرَّنِينَ دَعَوْا۟ هُنَالِكَ ثُبُورًا ﴿١٣﴾

**او کله چې( په ځنځيرونو او ولچکونو) لاس تړلى او پښې تړلى د دغه اور کوم تنګ ګوټ ته ورغورزار شى، د ارمان چيغې به ووهى چې کاش مرګ راشى( او له دې مصيبت نه مو خلاص کړى).**

لَّا تَدْعُوا۟ ٱلْيَوْمَ ثُبُورًا وَٰحِدًا وَٱدْعُوا۟ ثُبُورًا كَثِيرًا ﴿١٤﴾

( خو ورته به ويل كيږي) د يوه مرګ ارمان مه كوئ بلكه د ډيرو ډيرو مرګونو لپاره چيغې ووهئ.

قُلْ أَذَٰلِكَ خَيْرٌ أَمْ جَنَّةُ ٱلْخُلْدِ ٱلَّتِى وُعِدَ ٱلْمُتَّقُونَ ۚ كَانَتْ لَهُمْ جَزَآءً وَمَصِيرًا ﴿١٥﴾

ورته ووايه: (دغه عذاب) ښه دى كه هغه تلپاتې ابدي جنت چې له پرهيزګارانو سره يې وعده شوې،( او) د هغوى د نيكو اعمالو بدله او د ورتللو ځاى دى.

لَّهُمْ فِيهَا مَا يَشَآءُونَ خَٰلِدِينَ ۚ كَانَ عَلَىٰ رَبِّكَ وَعْدًا مَّسْـُٔولًا ﴿١٦﴾

هغه جنت چې پرهيزګارانو ته به پكې هر څه د دوى له خوښې او فرمايش سره سم راوړل كيږي، دا هغه ټينګه او حتمي وعده ده چې ستا رب( د مؤمنانو لپاره) پخپله عهده منلې ده.

وَيَوْمَ يَحْشُرُهُمْ وَمَا يَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ فَيَقُولُ ءَأَنتُمْ أَضْلَلْتُمْ عِبَادِى هَٰٓؤُلَآءِ أَمْ هُمْ ضَلُّوا۟ ٱلسَّبِيلَ ﴿١٧﴾

او هغه ورځ هم( ياد ساتئ) چې الله تعالى به كافران او د هغوى باطل خدايان چې د الله تعالى په مقابل كې يې په ربوبيت منلي وو، يوځاى راوغواړي، او له باطلو خدايانو نه به يې پوښتنه وكړي چې آيا تاسو زما دغه بندګان له حقې لارې اړولي وو، او كه دوى پخپله د ګمراهۍ او كفر لاره خوښه كړې وه؟

قَالُوا۟ سُبْحَٰنَكَ مَا كَانَ يَنۢبَغِى لَنَآ أَن نَّتَّخِذَ مِن دُونِكَ مِنْ أَوْلِيَآءَ وَلَٰكِن مَّتَّعْتَهُمْ وَءَابَآءَهُمْ حَتَّىٰ نَسُوا۟ ٱلذِّكْرَ وَكَانُوا۟ قَوْمًۢا بُورًا ﴿١٨﴾

هغوى به( په ځواب كې ووايي: اى ربه!) بيشكه چې ته (له هر ډول شرك او عيب نه) پاك ذات يې، مونږ هيڅكله دا قدرت او مجال نه درلود چې ستا په مقابل كې، نور دوستان او سرپرستان غوره كړو( او يا خپل ځانونه د خدايانو په حيث اعلان كړو، او خلك خپل پرستش او عبادت ته راوبلو) خو( اصل حقيقت دا و، چې)

تا دوی او د دوی پلرونه په ډیرو زیاتو نعمتونو ونازول او هغوی( د شکران په ځای په شهواتو او مزو چرچو کې ډوب شول) تر هغه چې ستا له یادو غافل او بالاخره په هلاکت محکوم شول.

فَقَدْ كَذَّبُوكُم بِمَا تَقُولُونَ فَمَا تَسْتَطِيعُونَ صَرْفًا وَلَا
نَصْرًا ۚ وَمَن يَظْلِم مِّنكُمْ نُذِقْهُ عَذَابًا كَبِيرًا ﴿١٩﴾

(الله تعالی به کافرانو او مشرکانو تهووایي چې ستاسو معبودان او خدایان خو ستاسو له عبادت او پرستش نه منکر دی) او تاسو یې دروغجن وګڼلې، اوس نو، نه له عذابه خلاصیدی شی او نه درسره مرسته کیږی.( ای انسانانو!) څوک چې په تاسو کې د ظلم او تیری مرتکب شی، د لوی عذاب انتظار دې وباسی.

وَمَآ أَرْسَلْنَا قَبْلَكَ مِنَ ٱلْمُرْسَلِينَ إِلَّآ إِنَّهُمْ لَيَأْكُلُونَ
ٱلطَّعَامَ وَيَمْشُونَ فِى ٱلْأَسْوَاقِ ۗ وَجَعَلْنَا بَعْضَكُمْ لِبَعْضٍ
فِتْنَةً أَتَصْبِرُونَ ۗ وَكَانَ رَبُّكَ بَصِيرًا ﴿٢٠﴾

( ای پیغمبره!) مونږ چې ستا نه وړاندې هر رسول استولی هم یې خوراک( څښاک) کاوه او هم( د خپلو ضروریاتو د پوره کولو لپاره) په بازارونو کې ګرځیده راګرځیده، او مونږ ستاسو ځینې کسان د ځینو نورو لپاره د ازمیښت وسیله کړی دی( یعنی پیغمبران به هم د کافرانو د عناد، لجاجت او سرکشی امتحان اخلی او هم به د هغوی د توهین او استهزاء او شرارتونو سره سره، په پوره صبر او ثبات خپل رسالت او مسئولیت په ښه توګه اداء کوی چې دا د انبیاو لپاره هم د ازمیښت دوره ده) او ستا رب( د ټولو حالاتو او د ټولو د اعمالو) لیدونکی او څارونکی دی.

۞ وَقَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَرْجُونَ لِقَآءَنَا لَوْلَآ أُنزِلَ عَلَيْنَا ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ أَوْ نَرَىٰ
رَبَّنَا ۗ لَقَدِ ٱسْتَكْبَرُوا۟ فِىٓ أَنفُسِهِمْ وَعَتَوْ عُتُوًّا كَبِيرًا ﴿٢١﴾

او هغه کسان چې زمونږ حضور ته له احضاریدو فکر او اندیښنه نه لری، وایی: ولې په مونږ باندې پرښتې نه نازلیږی، یا( ولې) خپل رب نه وینو؟ بیشکه چې دوی (په دغو خبرو) پخپلو زړونو کې تکبر او لویی کړې او په شرارت او سرکشی کې له چتې وتلی دی.

يَوۡمَ يَرَوۡنَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةَ لَا بُشۡرَىٰ يَوۡمَئِذٖ لِّلۡمُجۡرِمِينَ وَيَقُولُونَ حِجۡرٗا مَّحۡجُورٗا ٢٢

د پرښتو د ليدلو ورځ به د دوی لپاره کوم ښه زيری را نه وړی، بلکه( پرښتې به دوی ته) ووايی چې( نن د الله تعالی رحمت، جنت او د هغه نعمتونه) کاملاً په تاسو حرام دی.

وَقَدِمۡنَآ إِلَىٰ مَا عَمِلُواْ مِنۡ عَمَلٖ فَجَعَلۡنَٰهُ هَبَآءٗ مَّنثُورًا ٢٣

او مونږ به د دوی هر (نيک) عمل پوپنا او تباه کړو.

أَصۡحَٰبُ ٱلۡجَنَّةِ يَوۡمَئِذٍ خَيۡرٞ مُّسۡتَقَرّٗا وَأَحۡسَنُ مَقِيلٗا ٢٤

د جنت مستحقين به په دغه ورځ ډير غوره هستوګنځی او د غرمې د استراحت خونې ولری.

وَيَوۡمَ تَشَقَّقُ ٱلسَّمَآءُ بِٱلۡغَمَٰمِ وَنُزِّلَ ٱلۡمَلَٰٓئِكَةُ تَنزِيلًا ٢٥

او هغه ورځ چې په آسمان به يوه وريځ راښکاره شی او پرښتې به ترې کتار کتار ( د محشر ميدان ته )راکوزې شی.

ٱلۡمُلۡكُ يَوۡمَئِذٍ ٱلۡحَقُّ لِلرَّحۡمَٰنِۚ وَكَانَ يَوۡمًا عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ عَسِيرٗا ٢٦

په دغه ورځ به( ټول حکومتونه او واکدارۍ منحل او) حقيقی پاچاهی او سلطنت به د رحمان (خدای) لپاره ځانګړی وی او د کافرانو لپاره به يوه سخته او زوروونکې ورځ وی.

وَيَوۡمَ يَعَضُّ ٱلظَّالِمُ عَلَىٰ يَدَيۡهِ يَقُولُ يَٰلَيۡتَنِي ٱتَّخَذۡتُ مَعَ ٱلرَّسُولِ سَبِيلٗا ٢٧

هغه ورځ چې ظالمان به( په غم او پښيمانۍ کې ) خپل لاسونه چيچی او وايی به ای کاش چې له پيغمبر سره مو د حق لاره نيولی وی.

يَٰوَيۡلَتَىٰ لَيۡتَنِي لَمۡ أَتَّخِذۡ فُلَانًا خَلِيلٗا ٢٨

ای زما بده بخته! کاش چې فلانی سړی مې په دوستۍ نه وی نيولی( دا ټوله بدبختی مې د هغه د دوستی او ملګرتيا ثمره ده).

لَّقَدْ أَضَلَّنِي عَنِ ٱلذِّكْرِ بَعْدَ إِذْ جَآءَنِي ۗ وَكَانَ ٱلشَّيْطَٰنُ
لِلْإِنسَٰنِ خَذُولًا ﴿٢٩﴾

**( زه يي تيرويستم او له هغه الهی) ذکر نه يي گمراه کړم چې( د مبارک قرآن په نوم) ماته راغلی و. ربنتيا چې شيطان د انسان سپکوونکی (دښمن) دی.**

وَقَالَ ٱلرَّسُولُ يَٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِى ٱتَّخَذُوا۟ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ﴿٣٠﴾

**او پيغمبر به د قيامت په ورځ ووايي چې ای ربه همدا زما قوم و چه قرآن يې پرې ايښی و( او وربانديې ملنډې وهلې).**

وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَا لِكُلِّ نَبِىٍّ عَدُوًّا مِّنَ ٱلْمُجْرِمِينَ ۗ وَكَفَىٰ بِرَبِّكَ هَادِيًا
وَنَصِيرًا ﴿٣١﴾

**( ای پيغمبره! دا يوازې ته نه يې چې له پيغمبری او د عوت سره دې مخالفت کيږی بلکه پخوا هم) مونږ دا ډول ډير مجرمان د هر پيغمبر په مقابل کې د دښمنی په صف کې درولی او ستا لپاره همدا کفايت کوی چې الله تعالی دی لارښود او مرستندوی دی.**

وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ لَوْلَا نُزِّلَ عَلَيْهِ ٱلْقُرْءَانُ جُمْلَةً وَٰحِدَةً ۚ كَذَٰلِكَ
لِنُثَبِّتَ بِهِۦ فُؤَادَكَ ۖ وَرَتَّلْنَٰهُ تَرْتِيلًا ﴿٣٢﴾

**او کافران وايی چې قرآن ولې په مجموعی توگه نه دی نازل شوی؟ هو مونږ ستا د زړه د ثبات او استحکام او ښې پوهونې لپاره هغه په ځانگړی ترتيب او په تدريجی توگه تاته راليږو.**

وَلَا يَأْتُونَكَ بِمَثَلٍ إِلَّا جِئْنَٰكَ بِٱلْحَقِّ وَأَحْسَنَ تَفْسِيرًا ﴿٣٣﴾

**( او دا مصلحت هم پکې دی چې) هر اعتراض( يا د تعجب وړ پوښتنه) چې دښمنان يې تاته راوړی، مونږ يې پخپل وخت يو ډير منطقی او معقول ځواب او دليل بيانوو( خو دوی بيا هم د مبارک قرآن واضح دلايل کړوی او مغرضانه او معاندانه تأويلات ترې راوباسی).**

ٱلَّذِينَ يُحْشَرُونَ عَلَىٰ وُجُوهِهِمْ إِلَىٰ جَهَنَّمَ أُو۟لَـٰٓئِكَ شَرٌّ مَّكَانًا
وَأَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٣٤﴾

دوی هغه کسان دی چې( د قيامت په ورځ) به په دوزخ کې پړمخې غورزيږی، تر ټولو بد هستوګنځی به يې په برخه وی او تر ټولو بې لارې کسان به شميرل کيږی.

وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا مُوسَى ٱلْكِتَـٰبَ وَجَعَلْنَا مَعَهُۥٓ أَخَاهُ هَـٰرُونَ
وَزِيرًا ﴿٣٥﴾

او مونږ موسی ته کتاب ورکړی او د هغه ورور هارون مو د هغه د مرستيال په حيث ورته ټاکلی و.

فَقُلْنَا ٱذْهَبَآ إِلَى ٱلْقَوْمِ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَا فَدَمَّرْنَـٰهُمْ
تَدْمِيرًا ﴿٣٦﴾

او ورته مو وويل دواړه هغې ډلې( فرعونيانو) ته ورشئ چې زمونږ آيتونه يې دروغ ګڼلی( خو هغوی بياهم د موسی د حق دعوت په مقابل کې د لجاجت او تکبر دريځ غوره کړ) چې له همدې امله مو په شدت سره وټکول او هلاک مو کړل.

وَقَوْمَ نُوحٍ لَّمَّا كَذَّبُوا۟ ٱلرُّسُلَ أَغْرَقْنَـٰهُمْ وَجَعَلْنَـٰهُمْ لِلنَّاسِ
ءَايَةً ۖ وَأَعْتَدْنَا لِلظَّـٰلِمِينَ عَذَابًا أَلِيمًا ﴿٣٧﴾

او د نوح قوم چې کله يې پيغمبران دروغ وګڼل ډوب مو کړل او د خلکو لپاره مو د عبرت نښه وګرځول او د ټولو ظالمانو لپاره مو دردوونکی عذاب تيار کړی دی.

وَعَادًا وَثَمُودَا۟ وَأَصْحَـٰبَ ٱلرَّسِّ وَقُرُونًۢا بَيْنَ ذَٰلِكَ كَثِيرًا ﴿٣٨﴾

او عاديان او ثموديان او اصحاب الرس( د څاه خاوندان) او نور داسې قومونه مو هم( چې د نوح او اهل رس تر منځ يې ژوند کاوه تس نس او تباه کړی دی).

وَكُلًّا ضَرَبْنَا لَهُ ٱلْأَمْثَـٰلَ ۖ وَكُلًّا تَبَّرْنَا تَتْبِيرًا ﴿٣٩﴾

او هر یوه( قوم) ته مو( د هدایت لپاره) له عبرت نه ډک داستانونه بیان کړل خو کله یې چې لاربښوونې و نه منلې نو هر یو مو په شدت سره تالا ترغې او هلاک کړل.

وَلَقَدْ أَتَوْا۟ عَلَى ٱلْقَرْيَةِ ٱلَّتِىٓ أُمْطِرَتْ مَطَرَ ٱلسَّوْءِ ۚ أَفَلَمْ يَكُونُوا۟
يَرَوْنَهَا ۚ بَلْ كَانُوا۟ لَا يَرْجُونَ نُشُورًا ﴿٤٠﴾

او( د مکې مشرکین چې د شام د سفر په ترڅ کې د لوط د قوم) د باران زپلی ښار په کنډوالو تیریږی راتیریږی نو آیا ( د پخوانیو مکذبینو ناوړه انجام او عاقبت یې نه دی لیدلی ؟ بلکه لیدلی یې دی خو عبرت یې ترې نه دی اخستی) ځکه له دوی سره د بعث بعدالموت( او حساب کتاب) هیڅ فکر او اندیښنه نشته.

وَإِذَا رَأَوْكَ إِن يَتَّخِذُونَكَ إِلَّا هُزُوًا أَهَٰذَا ٱلَّذِى بَعَثَ ٱللَّهُ
رَسُولًا ﴿٤١﴾

او کله چې تا ووینی، نو ملنډې او مسخرې درباندې کوی( او وایی) آیا همدا سړی دی چې الله تعالی په پیغمبرۍ مبعوث کړی دی؟

إِن كَادَ لَيُضِلُّنَا عَنْ ءَالِهَتِنَا لَوْلَآ أَن صَبَرْنَا عَلَيْهَا ۚ
وَسَوْفَ يَعْلَمُونَ حِينَ يَرَوْنَ ٱلْعَذَابَ مَنْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٢﴾

که مونږ د خپلو بتانو په پرستش باندې ټینګ نه وی پاتې شوی، نږدې وه چې( همدې سړی) مونږ د هغوی له عبادت نه منحرف کړی وی.( الله تعالی د دوی د ملنډو او مسخرو په مقابل کې فرمایی چې دغه کافران) به د عذاب په لیدلو سره پوه شی چې منحرف او ګمراه څوک دی؟

أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾

آیا هغه کس دې ولید چې خپل نفس او هوا یې په خدایۍ نیولی، نو آیا ته کولی شې د هغه مسئولیت په غاړه واخلې ( او نیکې لارې ته یې سوق کړې؟ هیڅکله نه).

أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَٰمِ ۖ
بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾

آیا ته فکر کوې چې د هغوی زیاتره کسان( د حق خبره اوری او یا د حقایقو په باب له عقل نه کار اخلی؟ نه) هغوی د څارویو په شان دی بلکه له هغو نه هم زیات لار ورکی دی.

أَلَمْ تَرَ إِلَىٰ رَبِّكَ كَيْفَ مَدَّ ٱلظِّلَّ وَلَوْ شَآءَ لَجَعَلَهُۥ سَاكِنًا ثُمَّ جَعَلْنَا
ٱلشَّمْسَ عَلَيْهِ دَلِيلًا ﴿٤٥﴾

آیا د خپل رب( قدرت او حکمت) ته نه ګورې چې سیوری یې څنګه غزولی او خپور کړی دی؟ او که یې اراده کړې وی، نو هغه به یې ساکن او ثابت درولی وی. بیا مو لمر د دغه سیوری د پیژندو لپاره، د انسانانو لارښود وټاکه( چې ووینی سیوری شته که نه)؟

ثُمَّ قَبَضْنَٰهُ إِلَيْنَا قَبْضًا يَسِيرًا ﴿٤٦﴾

بیا یې ( د لمر په راپورته کیدو سره) ورو ورو بیرته خپل ځان ته راګرځوو.

وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ لَكُمُ ٱلَّيْلَ لِبَاسًا وَٱلنَّوْمَ سُبَاتًا وَجَعَلَ ٱلنَّهَارَ
نُشُورًا ﴿٤٧﴾

او الله تعالی هغه ذات دی چې شپه یې ستاسو لپاره لباس او خوب یې درته د آرام او استراحت، او ورځ یې درته د حرکت ( فعالیت او هلو ځلو لپاره) غوره کړی دی.

وَهُوَ ٱلَّذِىٓ أَرْسَلَ ٱلرِّيَٰحَ بُشْرًۢا بَيْنَ يَدَىْ رَحْمَتِهِۦ ۚ وَأَنزَلْنَا مِنَ
ٱلسَّمَآءِ مَآءً طَهُورًا ﴿٤٨﴾

او هماغه ذات دی چې د خپل رحمت د باران نه وړاندې، زیری ورکوونکی بادونه رالیږی، او مونږ پخپل قدرت سره له آسمانه پاکې (او پاکوونکی) اوبه نازلې کړی دی.

لِّنُحْۦِىَ بِهِۦ بَلْدَةً مَّيْتًا وَنُسْقِيَهُۥ مِمَّا خَلَقْنَآ أَنْعَٰمًا وَأَنَاسِىَّ
كَثِيرًا ﴿٤٩﴾

ترڅو ورباندې مړه ځمکه راژوندی کړو او انسانان او څاروی چې زمونږ د خلقت برخه ده پرې ماړه او خړوب کړو.

وَلَقَدْ صَرَّفْنَٰهُ بَيْنَهُمْ لِيَذَّكَّرُوا۟ فَأَبَىٰٓ أَكْثَرُ ٱلنَّاسِ إِلَّا كُفُورًا ٥٠

او باران د هغوی ترمنځ( له یوې سیمې نه بلې ته استوو ترڅو زما قدرت او رحمت وپیژنی) خو زیاتره خلک بیا هم د کفر او ناشکرۍ لاره غوره کوی.

وَلَوْ شِئْنَا لَبَعَثْنَا فِى كُلِّ قَرْيَةٍ نَّذِيرًا ٥١

او که اراده وکړو نو هر، کلی ته به یو اخطار ورکوونکی( پیغمبر) واستوو، خو (مونږ ستا په بعثت سره د پیغمبرۍ سلسله پای ته رسوو).

فَلَا تُطِعِ ٱلْكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدْهُم بِهِۦ جِهَادًا كَبِيرًا ٥٢

نو د کافرانو( د خواهشاتو او فرمایشاتو) پیروی مه کوه( چې غواړی تا د وحې له ابلاغ نه منع کړی). بلکه د دې قرآن په وسیله د هغوی په خلاف( فرهنگی او تبلیغاتی جهاد ته) ادامه ورکړه.

۞ وَهُوَ ٱلَّذِى مَرَجَ ٱلْبَحْرَيْنِ هَٰذَا عَذْبٌ فُرَاتٌ وَهَٰذَا مِلْحٌ أُجَاجٌ
وَجَعَلَ بَيْنَهُمَا بَرْزَخًا وَحِجْرًا مَّحْجُورًا ٥٣

او الله تعالی هغه ذات دی چې دوه داسې سیندونه یې سره څنگ په څنگ روان کړی چې د یوه اوبه خوږې، خوندورې او تنده ماتوونکی دی، او د بل اوبه تروې او ترخې دی، او د هغو ترمنځ یې یوه ټینگه او نه ماتیدونکی پرده جوړه کړې( چې له یو بل سره گډیدلی او مخلوط کیدی نشی).

وَهُوَ ٱلَّذِى خَلَقَ مِنَ ٱلْمَآءِ بَشَرًا فَجَعَلَهُۥ نَسَبًا وَصِهْرًا ۗ وَكَانَ رَبُّكَ
قَدِيرًا ٥٤

او الله تعالی هغه ذات دی چې له څاڅکی اوبو نه یې بشر پیدا کړ او بیا یې (بیلا بیلې بشری پرگنې) د نسب او خسر گنۍ په مزو سره تړلی دی.بیشکه چې ستا رب د ستر قدرت لرونکی ذات دی.

وَيَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُهُمْ وَلَا يَضُرُّهُمْ ۗ وَكَانَ ٱلْكَافِرُ عَلَىٰ
رَبِّهِۦ ظَهِيرًا ٥٥

او (کافران او مشرکان) د الله تعالی په مقابل کې د هغو شیانو عبادت کوی چې نه ورته گټه رسوی، نه ضرر.( او نه ترې ضرر دفع کولی شی). او کافران تل د خپل رب په مقابل کې( د سرکښ شیطان) ملگرتیا او ملاتړ کوی.

وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا مُبَشِّرٗا وَنَذِيرٗا ٥٦

او( ای پیغمبره) ته مو (مؤمنانو ته د جنت )د زیری ورکوونکی او ( کافرانو ته د دوزخ او الهی عذاب نه ) د اخطار ورکوونکی په حیث مؤظف کړی یې.

قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍ إِلَّا مَن شَآءَ أَن يَتَّخِذَ إِلَىٰ رَبِّهِۦ
سَبِيلٗا ٥٧

( خلکو ته) ووایه زه( د دین د تبلیغ په مقابل کې) ستاسو نه هیڅ اجوره او معاوضه نه غواړم،بلکه هدف مې دا دی چې که څوک غواړی(زما د لارښوونو په برکت) خپل رب ته د تقرب لاره پیدا کړی.

وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱلۡحَيِّ ٱلَّذِي لَا يَمُوتُ وَسَبِّحۡ بِحَمۡدِهِۦۚ وَكَفَىٰ بِهِۦ
بِذُنُوبِ عِبَادِهِۦ خَبِيرًا ٥٨

او په هغه ذات( الله تعالی) توکل وکړه چې تل ژوندی دی او مرګ نه لری، او له تسبیح سره د هغه ستاینه وکړه، او همدغه ذات د خپلو بندګانو په ګناهونو د پوهیدو لپاره کافی دی( او مناسبه سزا به ورکړی).

ٱلَّذِي خَلَقَ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ ثُمَّ ٱسۡتَوَىٰ
عَلَى ٱلۡعَرۡشِۖ ٱلرَّحۡمَٰنُ فَسۡـَٔلۡ بِهِۦ خَبِيرٗا ٥٩

هغه ذات چې آسمانونه او ځمکه( کائنات) او په هغو کې ټول موجودات یې په شپږو ورځو( مرحلو) کې ایجاد( له نیست نه هست) کړل، او بیا د سلطنت او د خلقت د چارو د تدبیر په تخت کیناست( لکه څنګه چې یې له شان او جلال سره ښایی)، او ډیر مهربان ذات دی( نو ای انسانه! د الله تعالی د ذات او د هستی د جهان د خلقت په باب) له یوه پوه خبیر( محمد صلی الله علیه وسلم) نه پوښتنه وکړه.

وَإِذَا قِيلَ لَهُمُ ٱسۡجُدُواْۤ لِلرَّحۡمَٰنِ قَالُواْ وَمَا ٱلرَّحۡمَٰنُ أَنَسۡجُدُ لِمَا تَأۡمُرُنَا
وَزَادَهُمۡ نُفُورٗا ۩ ٦٠

او کله چې دوی ته وویل شی: رحمان( خدای) ته سجده وکړی، وایی: رحمان یعنې څه؟ آیا هغه چا ته سجده وکړو چې ته راته امر کوې؟( الله تعالی وفرمایل چې ای پیغمبره! ستا دعوت، د ایمان او اسلام په مقابل کې ) د دوی نفرت او کرکه نوره هم زیاتوی.

تَبَارَكَ ٱلَّذِى جَعَلَ فِى ٱلسَّمَآءِ بُرُوجًا وَجَعَلَ فِيهَا سِرَٰجًا وَقَمَرًا
مُّنِيرًا ﴿٦١﴾

د زیات برکت څښتن دی( الله تعالی) هغه ذات چې په آسمانونو کې یې برجونه( لوی ستوری یا فضایی امنیتی سرحدونه) جوړ کړی او( لمر یې د روښنایی ورکوونکی او تودوخه ورکوونکی) څراغ پحیث او سپوږمۍ یې ځلیدونکې پکې پیدا کړی ده.

وَهُوَ ٱلَّذِى جَعَلَ ٱلَّيْلَ وَٱلنَّهَارَ خِلْفَةً لِّمَنْ أَرَادَ أَن يَذَّكَّرَ أَوْ أَرَادَ
شُكُورًا ﴿٦٢﴾

او هغه ذات چې شپه او ورځ یو په بل پسې راولی، د هغه چا لپاره چې د غور او فکر او( په الهی نعمتونو) د شکر ویستلو اراده ورسره وی( په دغو حقایقو کې د الله تعالی د وحدانیت او کامل تخلیقی قدرت د پیژندلو درس پروت دی).

وَعِبَادُ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلَّذِينَ يَمْشُونَ عَلَى ٱلْأَرْضِ هَوْنًا وَإِذَا خَاطَبَهُمُ
ٱلْجَٰهِلُونَ قَالُوا۟ سَلَٰمًا ﴿٦٣﴾

او د رحمان ( مخلص) بندګان هغه دی چې په ځمکه کې په وقار او تواضع سره ګرځی، او کله چې له ناپوهانو سره خبرې کوی نو په مسالمت آمیزه (لهجه ځواب ورکوی).

وَٱلَّذِينَ يَبِيتُونَ لِرَبِّهِمْ سُجَّدًا وَقِيَٰمًا ﴿٦٤﴾

او هغه کسان دی چې شپه د خپل رب لپاره په سجده او قیام کې تیروی.

وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا ٱصْرِفْ عَنَّا عَذَابَ جَهَنَّمَ ۖ إِنَّ عَذَابَهَا
كَانَ غَرَامًا ﴿٦٥﴾

او هغه کسان دی چې وایی: ای زمونږ ربه! د دوزخ اور له مونږ نه واړوه، بیشکه چې د هغه عذاب مسلسل او تلپاتې دی.

إِنَّهَا سَآءَتْ مُسْتَقَرًّا وَمُقَامًا ﴿٦٦﴾

حقیقت همدا دی چې دوزخ د ورتګ او پاتې کیدو لپاره تر ټولو بد ځای دی.

وَٱلَّذِينَ إِذَآ أَنفَقُواْ لَمۡ يُسۡرِفُواْ وَلَمۡ يَقۡتُرُواْ وَكَانَ بَيۡنَ ذَٰلِكَ
قَوَامٗا ٦٧

**او( عبادالرحمان) هغه کسان دی چې د خیرات او صدقاتو په ورکولو کې نه اسراف کوی نه بخل، بلکه( د الله تعالی په لاره کې د انفاق له پاره هم د زمان او مکان د شرایطو سره سم) د اعتدال لاره نیسی.**

وَٱلَّذِينَ لَا يَدۡعُونَ مَعَ ٱللَّهِ إِلَٰهًا ءَاخَرَ وَلَا يَقۡتُلُونَ ٱلنَّفۡسَ ٱلَّتِي حَرَّمَ
ٱللَّهُ إِلَّا بِٱلۡحَقِّ وَلَا يَزۡنُونَۚ وَمَن يَفۡعَلۡ ذَٰلِكَ يَلۡقَ أَثَامٗا ٦٨

**او( د رحمان مخلص بندګان) هغه کسان دی چې د الله تعالی په مقابل کې، د بل چا عبادت نه کوی او انسان چې وژل یې الله تعالی حرام ګڼلی،په ناحقه نه وژنی. او زنا،هم نه کوی. او څوک چې د دغو کارونو مرتکب شی د خپل جرم سخته سزا به ووینی.**

يُضَٰعَفۡ لَهُ ٱلۡعَذَابُ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ وَيَخۡلُدۡ فِيهِۦ مُهَانًا ٦٩

**د قیامت په ورځ به یې عذاب دوه چنده وی، او له خواری او ذلت سره به په دغه عذاب کې تل تر تله پروت وی.**

إِلَّا مَن تَابَ وَءَامَنَ وَعَمِلَ عَمَلٗا صَٰلِحٗا فَأُوْلَٰٓئِكَ يُبَدِّلُ ٱللَّهُ
سَيِّـَٔاتِهِمۡ حَسَنَٰتٖۗ وَكَانَ ٱللَّهُ غَفُورٗا رَّحِيمٗا ٧٠

**خو څوک چې( په اخلاص او پاک نیت) توبه وباسی او نیک عملونه وکړی، الله تعالی به یې بدی په نیکیو بدل کړی، رښتیا چې الله تعالی ډیر زیات ښښونکی او مهربان ذات دی.**

وَمَن تَابَ وَعَمِلَ صَٰلِحٗا فَإِنَّهُۥ يَتُوبُ إِلَى ٱللَّهِ مَتَابٗا ٧١

**او څوک چې( مخلصانه) توبه وباسی او نیکو اعمالو ته مخه کړی نو( په حقیقت کې یې) د توبې او د الله تعالی حضور ته د رجوع حق اداء کړی دی.**

وَٱلَّذِينَ لَا يَشۡهَدُونَ ٱلزُّورَ وَإِذَا مَرُّواْ بِٱللَّغۡوِ مَرُّواْ كِرَامٗا ٧٢

**او هغه کسان هم ( عبادالرحمان) دی چې د دروغو ګواهی نه ورکوی( نه دروغ وایی او نه په عبثو او ناروا مجلسونو او غونډو کې ګډون کوی،) او که( تصادفاً) ورسره مخامخ شی نو په بزرګواری او متانت ترې تیریږی.**

وَٱلَّذِينَ إِذَا ذُكِّرُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ لَمۡ يَخِرُّواْ عَلَيۡهَا صُمّٗا
وَعُمۡيَانٗا ٧٣

او کله چې دوی ته یې د رب نصیحتونه اورول کېږی، نو ځانونه ړانده او کاڼه نه اچوی( بلکه د زړه په غوږو او تدبر او غور سره یې اوری او د بصیرت په سترګو ورته ګوری).

وَٱلَّذِينَ يَقُولُونَ رَبَّنَا هَبۡ لَنَا مِنۡ أَزۡوَٰجِنَا وَذُرِّيَّٰتِنَا قُرَّةَ
أَعۡيُنٖ وَٱجۡعَلۡنَا لِلۡمُتَّقِينَ إِمَامًا ٧٤

او ( عبادالرحمان) هغه کسان هم دی چې وایی: ای زمونږ ربه! مونږ ته د ژوند داسې ملګری او اولاد چې زړونه مو پرې خوشاله او سترګې مو پرې خوږې شی، را په برخه کړه، او مونږ د پرهیزګارانو مخکښان وټاکه.

أُوْلَٰٓئِكَ يُجۡزَوۡنَ ٱلۡغُرۡفَةَ بِمَا صَبَرُواْ وَيُلَقَّوۡنَ فِيهَا تَحِيَّةٗ
وَسَلَٰمًا ٧٥

دوی ته به  یې د صبر او ثبات په بدل کې،هسکې (جنتی) ماڼۍ ورکړی شی او( د پرښتو له لوری به یې) د سلام په ویلو هرکلی وشی.

خَٰلِدِينَ فِيهَاۚ حَسُنَتۡ مُسۡتَقَرّٗا وَمُقَامٗا ٧٦

هلته به تلپاتې اوسی، څه ښه غوره او ارزښتناک مقام دی د ژوند او هستوګنې لپاره.

قُلۡ مَا يَعۡبَؤُاْ بِكُمۡ رَبِّي لَوۡلَا دُعَآؤُكُمۡۖ فَقَدۡ كَذَّبۡتُمۡ فَسَوۡفَ يَكُونُ
لِزَامَۢا ٧٧

( ای پیغمبره! کافرانو ته) ووایه که تاسو( د الله تعالی عبادت و نه کړی،( او د مصیبتونو او کړاوونو په وخت کې ورته) دعا او فریاد، و نه کړۍ نو زما رب تاسو ته هیڅ ارزښت نه درکوی، اوس چې تاسو( په ښکاره توګه د الله تعالی آیتونه او پیغمبر) دروغ ګڼۍ،(نو په مقابل کې) به درته لازمه او مناسبه سزا درکړی شی.

« تمت سورة الفرقان بعون الله و توفیقه»

========================